# Request for Quotation

## Construction Services (Under Shelter Relief Program in Kabul)

RFQ 08 (Nov, 2024)

| | |
|---|---|
| **Project Name** | **Shelter Relief Program** |
| **Province** | **Kabul** |

| | |
|---|---|
| **Company Name** | |
| **License No** | |
| **Date** | |

**د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت آدرس:** کابل نړیوال هوایی ډګر، اتیا متره سړک، د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت، د پلان ریاست

**برېښنا لیک........................:** hhrdprocurment@gmail.com

**د مبایل شمېره: ....................................:** +93785518478

د شرکت مسؤل استازی ( نماینده) لاسلیک او مهر:

# سرپناه (کورونو جوړوني) قراردادي شرکت ته اړتیا

د هېلپېنگ هېنډ نړیواله خیریه مؤسسه په پام کې لري چې د کونډو او یتیمانو په خاطر د کابل په ولایت کې 20 بابه کورونه اعمار کړي په همدې اساس دا مؤسسه غواړي د سرپناه (کورونو جوړوني) پروګرام له پاره د کورونو جوړوني یو ساختماني شرکت سره قرارداد ترسره کړي، ساختمانی شرکتونه چې د قرارداد کولو لېوالتیا ولري، د آفر تر لاسه کولو څخه وروسته دي بېـــرته د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د پلان ریاست ته په پاکټ کې بند په هارډ ډول او نور غوښتل شوي اسناد په یو جلا فایل کې په خلاص ډول وسپاري، د آفر او اسنادونو د سپارلو وروستی نېټه 30/11/2024 د شنبې ورځ د ماسپښین تر 02:00 بجو پورې دی، له یاد شوي وخت څخه وروسته له هیڅ شرکت څخه آفر او اسنادونه نه تسلمېږي.

## د شرکتونو محترمو مسؤلینو!

کله مو چې آفر بشــپړ کړ، د آفر ټولې پاڼې به لاسـلیک او ټاپه کړئ او جلا پاکټ کې به یې سـر بند راوړئ، همدارنګه نور غوښـتل شـوي اسـنادونه به هم ټول لاسـلیک او ټاپه کړئ او Hard کاپي به یې په یو جلا فایل کې خلاص راوړئ، د شـهیدانو او معلولینو وزارت د پلان ریاست ته یې په فزیکي ډول په ټاکلي وخت او نېټې وسپارئ، شرکت باید د آزاد داوطلبۍ مجلس کې د ګډون کولو پر مهال 5 سلنه نغدې پیسې چې (485000) افغانۍ کېږي د تضمین په توګه له ځان سره ولري، (که چیرته آفر او اسنادونه د انټرنټ له لارې یا دا چې په ټاکلي نېټه او وخت کې د شـهیدانو او معلولینو وزارت د پلان ریاسـت سره شـریک نه شـو او هره پاڼه یې لاسـلیک او ټاپه نه وه بیا شـرکت ته په داوطلبۍ کې هیڅ د ګډون حق نه ورکول کیږي).

## د داوطلب شرکتونو محترمو مسؤلینو!

د HHRD نړیوالې خیریه مؤســسـې لخوا په RFQ کې چې په کوم نوعیت او کیفیت سـاختماني مواد او کار غوښــتل شـوي دی باید د هماغې نوعیت، کیفیت او ورځیني نرخ په نظر کې نیولو سـره نرخ ورکړل شــي، د هر ډول اشــتباه په صـورت کې نوموړي شـرکت ته په راتلونکي کې هېڅ ډول د ګډون حق نه ورکول کېږي او شرکت د مؤسسې تور لېسټ ته شاملېږي.

د شرکت مسؤل استازی (نماینده) لاسلیک او مهر:

## 1- په داوطلبۍ کې د داوطلب شرکت یا قرارداد کوونکي لپاره ټاکل شوي شرایط:

دا چې د HHRD نړیوالې خیریه مؤسسې اداره د سرینا (کورونو جوړوني) پروګرام لپاره د کورونو جوړوني له پاره ساختماني شرکت ته اړتیا لري دا کوټېشن اعلانوي، داوطلب شرکتونه مکلف دي چې لاندني شرایط بشپړ کړي، د شرایطو بشپړېدو څخه وروسته داوطلب شرکتونه به خپلې آفرې په هارډ ډول په سر بند پاکټ کې او نور غوښتل شوي اسناد به په یو جلا فایل کې په خلاص ډول د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د پلان ریاست ته سپاري:

| | |
|---|---|
| 1 | داوطلب شرکتونه دې همدا آفر جلا په سربسته ډول چې لاسلیک او ټاپه شوی وي د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د پلان ریاست ته وسپاري.<br>همدارنګه کوم اسنادونه چې په دې افر کې له شرکتونو څخه غوښتل شوي دي په جلا خلاص فایل کې د یو ځانګړي چیک لیست له مخې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د پلان ریاست ته تسلیم کړي. |
| 2 | داوطلب شرکت باید  جواز ولري چې نېټه یې ختمه شوی نه وي او لږ تر لږه شپږ میاشتې وخت یې پاتې وي. |
| 3 | داوطلب شرکت باید د شرکت د رئیس یا مرستیال د پېژندپاڼي(تذکري) رنګه کاپي له RFQ سره یو ځای کړي. |
| 4 | داوطلب شرکت باید د بانکي حساب معلومات له RFQ سره مل کړي، تر څو  د ترسره کېدونکي خریدارۍ حساب قراردادي شرکت بانکي حساب ته ولېږل شي. |
| 5 | داوطلب شرکت باید د دفتر د کرایې قرارداد خط یا جایداد خط ولري او کاپي یې له RFQ سره یوځای کړي. |
| 6 | داوطلب شرکت چې مخکې کوم قراردادونه ترسره کړي وي د هغې تجربې اسنادونو کاپي  او د کورونو د جوړوني (ساختماني فعالیتونو) مشابه قرارداد چې مقدار یې له 6 میلیونه افغانیو څخه زیات وي شریک کړي، د مشابه قرارداد کاپي د 2021 تر 2024 کلونو ترمنځ  له RFQ سره مل کړي. |
| 7 | ساختماني داوطلب  شرکت باید د 1402 مالي کال د مالیې وزارت د تصفیې مکتوب له دې اعلان سره مل د شهیدانو او معلولینو وزارت د پلان ریاست ته وسپاري. |
| 8 | د داوطلب شرکت استازی باید آزاد داوطلبۍ مجلس کې د ګډون کولو پر مهال (485000)  څلور سوه او پنځه اتیا زره افغانۍ چې د عمومي قرارداد 5 سلنه کېږي نغدي د تضمین په توګه له ځان سره ولري. |
| 9 | که چیرې آزاد داوطلبۍ کې د شرکت رئیس یا مرستیال پرته د شرکت استازی( نماینده) ګډون کوي، د شرکت لخوا د استازی معرفي مکتوب باید له ځان سره ولري. |
| 10 | د داوطلب شرکت آفر باید جلا په پاکټ کې بند او مهر شوی وي، چې د شرکت اړین معلومات او ګرځنده شمېرې پرې د پاسه لیکل شوي وي، او نور اسنادونه دې جلا په یو فایل کې په خلاص ډول د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د پلان ریاست ته دې وسپاري او د راجستر کتاب کې دې ځان ثبت او راجستر کړي. |
| 11 | په RFQ  کې چې په کوم نوعیت او کیفیت د ساختماني موادو او کار یادونه شوې ده، داوطلب شرکت باید د همدې نوعیت او کیفیت له مخې ساختماني مواد او کار محاسبه کړي اوورځینی نرخ په همدې RFQ کې ولیکي. |
| 12 | داوطلب شرکت د آفر ډکولو څخه وروسته آفر باید په هارډ ډول د شهیدانو او معلولینو چارو ریاست ته د پلان ریاست ته وسپاري، که کوم داوطلب شرکت سربسته افر او غوښتل شوي اسنادونه په یو خلاص جلا فایل کې په ټاکلي وخت او نېټې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت ته ونه سپاري یا یې د انټرنټ له لارې شریک کړل نو په داوطلبۍ کې د ګډون کولو حق نه ورکول کېږي. |
| 13 | د مرسته کوونکي لاسونه د مرستې او پرمختګ لپاره د سریناه (کورونو جوړوني) پروګرام په خاطر لاندې مشخصات ټاکلي دي:<br>• په هر کور کی دوه خونې، یوه پخلنځای، یو تشناب او یو دهلیز موجود دی.<br>• د هرې خونې اندازه یی   (4.5*3.5) متره ده<br>• هر کور یو پخلنځای لری چې اندازه یی (1.4*2.8) متره ده<br>د شرکت مسؤل استازی (نماینده) لاسلیک او مهر: |

| | |
|---|---|
| | • یو دانه تشناب چی اندازه یی (2*1.35) متره ده داخل د تشناب کې کاشي هم استفاده کيږی<br>• یو دهلیز چی اندازه یی (3*2.9) متره دی.<br>• د هر کور د تهداب اول سنګ کار کیږی چې عرض یې (50) سانتی متره او ارتفاع یې (85) سانتي متره په پام کې نیول شوې ده.<br>• د کور د ټولو دیوالونو ضخامت دیو خښتی اندازه ده چی د پلستر سره یی ضخامت (25) سانتی متره کیږی<br>• د دواړو خونو ارتفاع یی (2.9) متره ده او د تشناب، اشپزخانی او دهلیز ارتفاع یی (3.7) متره ده<br>• دروازی کړکۍ او روشن دانونه یی د Pvc / آهنی جوړیږی<br>• د کور چت د ګادر ټیرن او چوکی خخه جوړیږی<br>• د کور لاندینی فرش هم سمنټ کیږی |
| 14 | د ساختماني شرکت د اسنادونو، د ساختماني موادو او کار کیفیت د کتنې کمېټې د انتخاب په پایله د ګټوونکي شرکت د ټاکل کېدلو خخه وروسته د قراردادي شرکت خخه د جنس او قرارداد د ضمانت په توګه د کورونو له جمله حساب خخه 10% نغداً د قرار داد تر نهايي کېدو مؤسسې سره کېښودل کېږي، که چېرته د ساختماني موادو او کار کیفیت خراب وو، بیا د قراردادي شرکت خخه پیسې ګرځول کېږي او بېرته نه ورکول کېږي، که چېرته یې د ساختماني توکو او کار کیفیت سم او کورونه یې د قرارداد د شرایطو له پلي کولو سره سم اعمار کړل، بیا د کار د بشپړیدو وروسته بېرته په ضمانت کې کېښودل شوې پیسې شرکت ته نغداً تسلیمیږي. |
| 15 | په RFQ کې ورکړل شوي نرخونه د داوطلب شرکت لخوا د ورکړل شوي نېټې خخه د سرپناه (کورونو جوړونې) پروګرام ته تر شپږ میاشتو پورې باید اعتبار ولري، په بازار کې تر شپږ میاشتو د نرخ تغیرېدو په صورت کې مؤسسه هېڅ ډول مسؤلیت او مکلفیت نه لري او قراردادي شرکت مکلف دی چې د همدې ورکړل شوي نرخ له مخې حساب وکړي او د کورونو د اعمار پروسه سرته ورسوي. |
| 16 | د داوطلب شرکت لخوا ورکړل شویو نرخونو کې به دوه سلنه مالیه شامله وي، چې د قراردادي شرکت له مجموعي قیمت خخه ګرځول کېږي او د مؤسسې لخوا دولت ته تحویلیږي. |
| 17 | د سرپناه د (کورونو د جوړونې) له پاره ټول توکي د ساختماني شرکت له خوا خریداري، ساحې ته انتقال، پورته کول، ښکته کول، کرایی، د ساختماني موادو کارول او نصبول او همدارنګه د ساختمان په جوړونه کې ټول کارونه او احتیاطي تدابیر په ساختماني شرکت دي . |
| 18 | کله چې د ټاکل شوې کمېټې لخوا کوم ساختماني شرکت د قرارداد وړ وګڼل شو او د قرارداد خخه وروسته د کورونو د اعمار پلان ورسره شریک شو، ساختماني شرکت مکلف دی چې د پلان له مخې ټول ساختماني مواد به د مؤسسې د تخنیکي نماینده د لیدلو وروسته استعمالوي او که کوم مواد د قرارداد مطابق نه وي هغه به مستردېږي، په دې کار کې د هر ډول ځنډ یا خنډ په صورت کې د هرې یوې ورځې ځنډ لپاره قراردادي شرکت 10000 لس زره افغانۍ جریمه کېږي او شرکت خخه به د ضمانت په پیسو کې ګرځول کېږي، چې بیا هېڅ ډول عذر یې د منلو وړ نه دی، د دریبو ورځو ځنډ په صورت کې قرارداد فسخه او شرکت ته هېڅ ډول لګښت نه ورکول کېږي او بل په شرایطو برابر شرکت ته به قرارداد ورکول کېږي. |
| 19 | ګټونکی شرکت مکلف دی چې ساختماني توکي ددې اعلان د شرایطو مطابق برابر کړي، که چېرې شرکت ساختمانی مواد د شرایطو مطابق د برابرولو خخه انکار وکړي، قرارداد یې فسخه کېږي او په ضمانت کې ایښودل شوې پیسې ترینه ګرځول کېږي.<br>همداراز که د کورونو د اعمار خخه وروسته د ګټه اخیستونکو پنځه تنو د کورونو ساختماني موادو د کیفیت او د کار د خرابوالي په اړه شکایت وکړو، د شرکت لخوا به یاده ساحه بیا ځل کتل کېږي او د ترمیم کارونه به یې په معیاري ډول پر مخ بیایی که چیرته شرکت د مستفیدینو شکایتونو ته رسیده ګي ونکړه نو په ضمانت کې ایښودل شوې پیسې ترینه ګرځول کېږي. |
| 20 | د شوي ساختماني قرارداد جمله حساب به په دریو قسطونو کې نظر په ساختماني کار د 30 سلنه کار له تکمیلېدو خخه وروسته د قرارداد 30 سلنه پیسې ورکول کېږي، د 60 سلنه کار له تکمیلېدو خخه وروسته د قرارداد 60 سلنه پیسې ورکول کېږي او د 100 سلنه کار له تکمیلېدو خخه وروسته د قرارداد 100 سلنه پیسې ورکول کېږي او د انتخاب شوی |



د شرکت مسؤل استازی (نماینده) لاسلیک او مهر:

| | |
|---|---|
| | ساختماني شرکت بانکي حساب ته لېږل کېږي او د ضمانت پیسې د کار د تکمیلېدو څخه یوه میاشت وروسته بیرته قراردادي ساختماني شرکت ته ورکول کېږي. |
| 21 | داوطلب ساختماني شرکتونه باید په کابل ولایت کې دفتر او فزیکي پته (ادرس) ولري، تر څو د HHRD مؤسسې مرکزي دفتر کارمندان یې په کاري ساحه کې د ساختماني موادو او کارونو له کیفیت څخه څارنه او نظارت وکړي. |

**یادونه: د HHRD نړیوالې خیریه مؤسسې لخوا پورتني 21 شرایط باید د داوطلب شرکت لخوا د آفر ېېرته لېږلو پر وخت بشپړ او عملي شوي وي او په دې RFQ کې ټول شرایط یې منلی وي، همداراز د داوطلب شرکت لخوا نرخونه باید تر شپږو میاشتو پورې اعتبار ولري، چې داوطلب شرکت به همدې نرخ ته ژمن وي، په بازار کې د نرخ تغیرېدو په صورت کې مؤسسه هېڅ ډول مسؤلیت نه مني.**
**د هر ډول اشتباه په صورت کې داوطلب شرکت ته د ګډون کولو حق نه ورکول کېږي.**

**د شرکت مسؤل استازی (نماینده) لاسلیک او مهر:**

## 2- د داوطلب شرکت په اړه معلومات:

| | |
|---|---|
| د شرکت نوم د جواز مطابق: | |
| د شرکت د جواز ثبت شمېره: | د شرکت د جواز شمېره: |
| د شرکت د رئیس نوم: | د شرکت د رئیس د تذکرې شمېره: |
| د شرکت د رئیس د اړیکي لومړۍ شمېره: | دویمه شمېره: |
| د شرکت استازی( نماینده ) نوم: | |
| د اړیکي شمېره: | د شرکت د استازي ایمیل ادرس: |
| د شرکت د دفتر فعلي ادرس: | |
| نیټه :           /             /2024 | ورځ : / وخت : |
| د شرکت رئیس یا هم مسؤل استازی ( نماینده) لاسلیک او مهر: | |

## 3- اړین اسناد چي باید داوطلب شرکت یې له همدي RFQ سره مل را ولېږي:

1. د داوطلب شرکت جواز رنګه سکن کاپي
2. د داوطلب شرکت د ریس او معاون د تذکرې رنګه سکن کاپي
3. د دواطلب شرکت استازی تذکرې رنګه سکن کاپي
4. د داوطلب شرکت بانکي حساب معلومات
5. د شرکت د دفتر کرایې قرارداد خط رنګه سکن کاپي یا هم که دفتر په خپل جایداد کې اوسي بیا د جایداد اړوند اسنادو کاپي
6. د مشابه قرارداد داسنادو کاپي(تجربه کاري2021څخه تر 2024 کلونو ترمنځ )
7. شرکت باید د داوطلبۍ پر وخت 485000 څلور سوه او پنځه اتیا زره افغانۍ نغدي د تضمین په توګه له ځان سره ولري.
8. ساختماني داوطلب شرکت باید د 1402 مالي کال د ماليې وزارت د تصفیې مکتوب له دې اعلان سره د شهیدانو او معلولینو وزارت د پلان ریاست ته وسپاري.

یادونه: داوطلب شرکت مکلف دی چې په پاس جدول کې 8 شمارې لیکل شوي اسناد په یو جلا خلاص فایل کې ځای پر ځای کړي او هر پاڼه دې لاسلیک او ټاپه شوي وي.

د همدې آفر هره پاڼه د شرکت رئیس یا مسؤل استازي (نماینده) لخوا مهر او لاسلیک شي، که چېرته هره پاڼه مهر او لاسلیک شوی نه وو، د شرکت اسنادونه د نورو شرکتونو سره د پرتلي وړ نه ګرځي، پورته ذکر شوي اسنادونه د RFQ سره یو ځای په یو جلا فایل کې باید ولېږل شي، که چېرته یو سند هم کم اوسي، یا ټاکل شوي شرایط بشپړ شوي نه وي، بیا به شرکت ته  په آفر ګشایې کې هېڅ ډول د ګډون کولو حق نه ورکول کېږي، د HHRD مؤسسې د ټاکل شوی کمېټې او د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د رسمي نماینده لخوا د شرکتونو د اسنادونو بررسي ترسره کېږي، چې اسنادونه باید اصلي اوسي، په اسنادونو کې هر ډول تقلب او جعل کاري جرم دی.

| د شرکت مسؤل استازی ( نماینده) لاسلیک او مهر: |
|---|

| شمېره | د جنس (ساختماني توکو) نوم او ځانګړنې(تشریح) | د مقدار واحد | اندازه | جمله قیمت په افغانیو | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | د ساحی تیارول | متر مربع | 61.475 | | |
| 2 | کندن کاری د 40 سانتی متر په ژوروالی او 50 سانتی په عرض سره او د سفتیک خاه لپاره | مترمکعب | 16.665 | | |
| 3 | ډکون د ساختمان دننه لومړی 23 سانتی متر خاوره وروسته 15 سانتی متر کرېړ او جغل د ټولو اړینو موادو او کار سره | مترمکعب | 14.899 | | |
| 4 | سنګ کاری د 85 سانتی په ارتفاع او 50 سانتی په عرض سره د 1:2:3 په نسبت لرونکی مساله کی د ټولو اړینو موادو او کار سره | مترمکعب | 25.63 | | |
| 5 | خیشت کاری عرض 22 سانتی ارتفاع 3 متره د 1:5 نسبت لرونکی مساله کی د ټولو اړینو موادو او کار سره دخښتې ډول : اول نمبر پخه خښته چې ابعاد یې 11*22*7 سانتی مترو کی اوسی | مترمکعب | 43.554 | | |
| 6 | پلستر کاری په 1:5 نسبت لرونکی مساله کی د ټولو اړینو موادو او کار سره | مترمربع | 268.798 | | |
| 7 | د چیسو پلستر د ټولو اړینو موادو او کار سره | مترمربع | 5.02 | | |
| 8 | رنګ پلاستیکی 100% بیرون د ساختمان او رنګ پلاستیکی 75% داخیل د ساختمان د ټولو اړینو موادو او کار سره | مترمربع | 266.17 | | |
| 9 | کاشی کاری دوغه یی د تشناب لپاره دیوالی د 1.65 مترو په ارتفاع سره او ځمکی لپاره د ټولو اړینو موادو او کار سره | مترمربع | 12.875 | | |
| 10 | د اشپز خانی لپاره یوه دانه دوه نیم متری ماربل تیکه د دستشویی لرونکی د ټولو اړینو موادو او کار سره | تعداد | 1 | | |
| 11 | چت چې ګاډر یی 6000 اول نمبر اوسی 5 ملی چې د دوو ګاډرو ترمنځ اندازه به 90 سانتی مترو څخه زیاته نه شي، تیرن 5 سانتی 3 ملی، چوکی ، دانه لرونکی مساله 2سانتی خاوره 5سانتی پلاستیک او اخیر کی 5 سانتی متر کانکریت اجول کیږی او کاړډر او تیرن به لومړی زدی زنګ بیا رنګ کیږی د ناوو د ټولو اړینو موادو او کار سره د چوکی مشخصات: 4*15*30 ابعادو لرونکی اول نمبر پخه شوی اوسی | مترمربع | 61.475 | | |
| 12 | لنتر د سیفتیک څاه لپاره | مترمکعب | 0.231 | | |
| 13 | کانکریټی فرش د 7 سانتی په ضخامت سره په نسبت د 1:2:3 داخیل د ساختمان او د سفتیک څاه په بیخ کی د ټولو اړینو موادو او کار سره | مترمکعب | 3.652 | | |
| 14 | فلزی ګیټ 2.5*1.3 مترو کی | تعداد | 1 | | |

د شرکت مسؤل استازی ( نماینده) لاسلیک او مهر:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 15 | کار دروازی او کړکۍ د ټولو اړینو موادو او کار سره PVC د | مترمربع | 26.14 | | |
| 16 | د اوبو سیستم نل دوانی د تشناب او اشپزخانی لپاره د ډیکی او سیفټک پوری چی سیفټیک د لسو کورونو لپاره جوړ شوی په چی عمومی پایپ به د 6 انچو څخه کوچنی نه وی همدارنګه فرشی کموډ د ډیکی او اړینو موادو سره دست شوئی او شاور د اړینو موادو سره او یوه دانه جهان ناز کمپنۍ والا 1000 لیتره ډیکی د ټولو اړینو موادو سره | پروژه | 1 | | |
| 17 | برق سیستم چی هری کوټی ته دوه کروپونه او یو چتی پکی سوچ بورډ اولیټ پلک د دهلیز لپاره یو ګروپ داخیل او یو خارج سوچ بورډ او لیټ پلک د اشپز خانی لپاره یو ګروپ سوچ بورډ او لیټ پلک او تشناب لپاره یو کروپ سویچ بورډ هری لین دوانی زیر پلستر او یوه دانه عمومی فیوز بکسه برخی ته بیل فیوز په عمومی فیوز بکسه کی د ټولو اړینو موادو او کار سره | پروژه | 1 | | |
| مجموعه قیمت د دوه سلنه مالي په شمول په افغانیو | | | | | |
| دوه سلنه مالیه په افغانیو | | | | | |
| مجموعي قیمت وروسته له دوه سلنه مالي نه په افغانیو | | | | | |

کـــوم نرخونه مو چې پورته د HHRD مؤسسې ته ورکړي دي له دقت څخه وروسته د ساختماني توکو او کار ښه کیفیت، د کار ساحې ته د لېږد ( انتقال) لګښت، بارګیري لګښت، تخلیه لګښت، مالیه، د ساختماني توکو قیمت پـــــه نظر کې نیولو وروسته محاسبه او ورکړل شـو، چې دغه ورکړل شـوي نرخ به تر شپږ میاشتو پورې اعتبار ولري که چېرته HHRD مؤسـسـه وغواړي چې د سـرپناه (کورونو جوړونې پروګرام) له پاره ساختماني توکي خریداري کړي، نـــــو د همدې نرخ له مخې به یې محاسبه کوي او حساب به یې د شرکت اکاونټ ته لېږل کېږي، په بـــازار کې د نرخ د تغیېرېدو په صورت کې مؤسسه هیڅ ډول مسؤلیت نلري، که نرخ لوړ شي او یا هم کم شي او نه نرخونو کې تغیر راتللی شي، د ( شرکت نوم : ) شرکت اداره همدې نرخ ته ژمن او صادق دی.
یادونه: که چېرته په پورته جنسـونو کې سـاحې ته د سـاختماني توکو د لېږد(انتقال) لګښـت، مالیه، د جنس قیمت په نظر کې نیول شـوی وي، نو بیا د شـرکت اسناد او سـاختماني توکي د کمپنۍ لخوا د نورو شـرکتونو سـره مقایسـه یا پرتله کېږي او که چېرته یواځې د سـاختماني توکو قیمت ورکړل شـــوی وو، مالیه یا نور مصـــارف په کې نه وو شـــامل شـــوي، بیا به هیڅ ډول د ګډون حق نه ورکول کېږي. همداراز په شرایطو کې غوښتل شوي اسناد باید پوره او بشپړ ولېږل شي.

د شرکت مسؤل استازی (نماینده) لاسلیک او مهر: